ورځپاڼه

# شریعت

SHARIAT DAILY

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان

شپږ. کال ۳۹مه گڼه پرله پسې (۴۱۹) چهارشنبه د۱۴۲۲ هـ ق کال دربیع الاول (۱۴)
د ۱۳۸۰ هـ ش کال دجوزا دمیاشتی (۱۶) د۲۰۰۱ میلادی کال دجون (۶)

## یک گروپ مهاجمین مسلح در هرات دستگیر گردیدند

### در این گروپ یکتن ایرانی نیز شامل است

هرات :
یك گروپ ده نفری افراد مسلح مخالفین حین ورود از ایران به خاك افغانستان در منطقه سرحدی ولسوالی کهسان ولایت هرات از طرف محافظین سرحدی امارت اسلامی دیروز دستگیر گردیدند .
آژانس اطلاعاتی باختر خبر داد، گروپ مسلح افراد مخالفین که از خاك ایران وارد منطقه سرحدی رباط ولسوالی کهسان ولایت هرات گردیده و میخواستند با اعمال خصمانه شان زنده گی ارام هموطنان مارا نا ارام سازند پریروز توسط موظفین سرحدی امارت اسلامی دستگیر گردیدند

از نزد افراد مسلح متذکره که یك نفر تبعه ایرانی هم با ایشان همراه است ۲۵ میل کلاشینکوف بدست آمده است .
محافظین بیدار سرحدی امارت اسلامی در جریان ماه گذشته نیزیك گروپ پنجاه نفری مسلح مخالفین راکه به قصد انجام تحرکات نظامی از ایران وارد منطقه سرحدی کوه های شیخ کمان و چاه لیك ولایت هرات شده و میخواستند از آنطریق وارد ولایت غور گردند در طی یك عملیات برق آسا از بین برده وشش نفر ایشانرا همراه باشصت میل کلاشینکوف ، سه عراده موتر ویك مقدار مهمات دستگیر نموده بودند .

## الٰهی فرمان

بېشکه هغه کسان چې دوی د یتیمانو مال په زور او ظلم سره خوري ، په حقیقت کې خپلو گېډو ته اور وراچوي او ژر ده چې وبه رسېږي دوي سخت غذاب ته
( النساء -۹ )

د اطلاعاتو او کلتور محترم وزیر مولوی قدرت الله جمال :

# دافغانستان اسلامی امارت د نافذو قوانینو په تطبیق مکلف دی

کابل :
اسلامی امارت د یو قانونی او حاکم ارگان په توگه حق لري چې په هیواد کې د نافذو قوانینو رعایت تضمین کړي .
د غه ټکی د اطلاعاتو او کلتور وزیر محترم مولوی قدرت الله جمال باختر اطلاعاتي اژانس ته څرگند کړ.

### موږ افغانی ټولنه له فساد او انحرافه ساتل غواړو

### ځینې مطبوعات اسلامی قواعد غلط معرفی کوي

ده زیاته یی کړه : داچې زموږ ستر قانون د اسلام په اساساتو تکیه لري او په اسلام کې لکه څرنگه چې د داخلي اتباعو لپاره قوانین شته خارجي اتباع هم د اسلامی جامعی په وړاندی ځینې ملحوظات باید په نظر کې ونیسي او دا له دی امله چې د هغوی په نیکاره کېږو ورو اسلامی جامعه متأثره نشي د مثال په دول په
٤ مخ

داملاکو عمومی رئیس ملا نقیب الله مرور :

## په کابل او کندهار کې

## د ښارو ځمکو ویش عملاً پیل شوی دی

کابل - شریعت :
قدرمنو لوستونکو ! دځمکو داملاکو د عمومي ریاست اداري رئیس قدرمن ملا نقیب الله « مرور » زموږ خبریال ته دخپل کار او هڅو په اړه یو څه معلومات ورکړي دي چې ستاسو پام ورته راگرځوو .
٤ مخ

د کابل په خاک جبار کې :

## دیوی مدرسې د بنسټ ډبره کېښودل شوه

کابل
دکابل ولایت دخاک جبار په ولسوالی کې دامام مسلم (ع) د مدرسې د بنسټ ډبره پرون کېښودل شوه
دباختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ ؛ په هغو مراسمو کې چې له هغې امله دکابل دوالی محترم ملا عبدالمنان نیازي او دخاک جبار ولسوالی دچارواکو او خلکو په گډون
٤ مخ

## تعمیر مدرسه قریه دشت سفید ولایت بامیان مجدداً احیا گردید

بامیان :
تعمیر مدرسه قریه دشت سفید ولسوالی کهمرد ولایت بامیان احیای مجدد ومورد استفاده طالب العلمان قرار گرفت.
آژانس اطلاعاتی باختر خبر داد: مدرسه متذکره در سال ۱۳۴۸ هجری شمسی توسط اهالی قریه
ص ٤

د کابل پوهنتون د حقوقو استاد پوهنمل نصرالله ستانکزی :

## د افغانستان اسلامی امارت دخپل کورنی نظم او قوانینو د تطبیق حق لری

کابل :
د افغانستان اسلامی امارت د یوه خپلواک هیواد په توگه د دې حق لري چې دخپلې واکمنۍ د ساتنې په خاطر قوانین او نور تقنیني سندونه برابر او تطبیق کړي .
دکابل پوهنتون د حقوقو د پوهنځي استاد محترم پوهنمل
٤ مخ

## سرك قریه جات کوچه زرد ولایت بادغیس ترمیم گردید

بادغیس :
حدود سی کیلو متر سرك قریه جات کوچه زرد ولایت بادغیس ترمیم و دیروز طی محفلی مورد استفاده قرار گرفت.
آژانس اطلاعاتی باختر خبر داد
ص ٤

د ایران جمهور رئیس خاتمی :

## دبندیزونو په موجودیت کی له امریکي سره اړیکې جوړول نه غواړي

بی بی سی
دایران جمهور رئیس سید محمد خاتمي پرون وویل : تر هغه وخته پوري چې امریکا په ایران باندی خپل لگول شوي بندیزونه لري نکړي دایران او
٤ مخ

## جاپان آماده است تایک شفاخانه بزرگ درشهر کابل اعمار نماید

### ما خدمات خویش را مطابق قوانین نافذه امارت اسلامي افغانستان ساخته ایم

کابل شریعت :
ماهیچ نوع مشکلي با امارت اسلامي نداشته و تا آخرین امکانات در خدمت مردم نیازمندافغانستان قرار خواهیم داشت .
این مطلب را محترم طبیب سیف الرحمٰن « سیف » ناظم موسسه P.M.S یا مرکز خدمات صحي
ص ٤

محترم مولوي سید عبیدالله « ابوعبید » رئیس شفاخانه نور :

## شفاخانه نور سالانه ده آی کمپ را در ولایات اجرا میکند

### قیمت ادویه در شفاخانه نور بیست فیصد کمتر از نرخ بازاراست

### این شفاخانه در دو بخش ( زنانه و مردانه ) روزانه بیست مریض را عملیات میکند

کابل - شریعت :
شفاخانه نور که عمر طولانی یی را در راه تداوی هموطنان ما گذشتانده ، درسطح کشور یگانه شفاخانه یی است که حتی در سخت ترین شرایط توانسته مریضان چشم را معالجه و تداوی نماید و هم در تربیه طبیبان جوان و مجرب سهم فعالی گرفته که مجرب ترین طبیبان چشم ــ روزی دوره ــ ترینگ و ستاژ خویش را در این شفاخانه سپری مینمودند مؤسسه
ص۲

طبیب فریدون اشک

## در شفاخانه حوزوی خواجه عبدالله انصاری (رح)

## وخیم ترین عملیات ها موفقانه صورت میگیرد

هرات - شریعت :
محترم الحاج طبیب فریدون « اشك » که از سابقه و تجربه کافی در بخش ارتوپیدی و ترومانولوژی بر خوردار است ، طی مصاحبه به خبر نگار ما گفت : در شفاخانه حوزوی حضرت خواجه عبدا لله انصاری « رح » طبیبان
ص۲

سرمقاله

دلوي او بښونکي خداي (ج) په نامه

## بهرنیان دی زموږ دملی او دینی اساساتو احترام وکړی!

دا یو څرگند حقیقت دی چې د نړی د بیلا بیلو ولسونو تر منځ د دین ، کلتور او ملی عنعناتو اختلاف یوه ډېره حساسه موضوع ده چې زیاتره وخت د همدی اختلاف له کبله دخلکو او حکومتونو تر منځ ستری جگړی او لویی کشالی رامنځ ته کېږی . خو د دی لپاره چې ټول انسانان دځمکی پر مخ دسولی او تفاهم په فضا کی ژوند وکړی نو ښه داده چې هر ولس او دهر هیواد اوسیدونکی دبل ملت د مذهبی انگیرنو ، کلتور او ثقافت درناوی وکړی او هیڅوک هم په بل لوری دخپلو ځانگړو رواجونو د تپلو او یا هغو ته دسپکاوی اړولو هڅی ونه کړی . دافغانستان اسلامی امارت دهمدی اصل په نظر کی نیولو سره ټولو بهرنیو اتباعو ته خبر ورکړی چې هغوی باید زموږ دهیواد نافذه قوانینو ، دینی انگیرنو او افغانی کلتور ته په درنه سترگه وگوری او له داسی کارونو ډډه وکړی چې زموږ دمذهبی اصولو او ټولنیز رسم او رواج څرگند مخالفت او یا سپکاوی وی . په دی لړ کی هغوی ته دا توصیه هم شوی چې په افغانی
۲ مخ

## اعضای اوپك بر تصمیم عراق در مورد فروش نفت بحث نمودند

بی بی سی
وزرای انرژی کشور های عضو اوپك یا سازمان کشورهای عمده تولید کننده نفت جهان دیروز در ویانا پایتخت اطریش تشکیل جلسه
ص۴

## په نیپال کی گرځ بندیز نورهم اوږد شو

بی بی سی :
د نیپال په پایتخت کټمنډو کی پرون بو ځل بیا په تگ راتگ باندی د بندیز د مقرراتو موده تمدید شوه .
له هغه وروسته چې د تیری جمعې په ورځ د نیپال د سلطنتي کورنی نږدی ټول غړی په سلطنتي ماڼی کی
٤ مخ

در کوریا ی جنوبی

## پولیس و کارگران به جان هم افتادند

بی بی سی
هزاران پولیس کوریای جنوبی دیروز به یك کمپنی آنکشور هجوم برده تا به اعتصاب کارگران آن کمپنی خاتمه بخشند .
کارگران معترض از دوا زده روز به اینطرف یك کمپنی تولید ی را در یك شهر صنعتی کوریای جنوبی
ص۴

## یهودی غاصب رژیم په فلسطین باندی نور بندیزونه هم ولگول

بی بی سی :
د اسرائیلو صهیونستی رژیم د فلسطینیانو په فعالیتونو باندی نوی محدودیتونه لگولی دی او ویلی یی دی چې فلسطینی هلیکوپټرونه له دی وروسته اجازه نه لري چې د فلسطین له نورو سیمو څخه د غزی ناوی او لویدیځ ساحل ته الوتنی وکړی .
د صهیونیستی رژیم د کابینی یوه غړی وویل : ددغو محدودیتونو هدف دادی چې دفلسطینیانو خپلواکه اداره د صهیونیستانو پرخلاف دبریدونو مخه ونیسی .
دا په داسی حال کی دی چې د
٤ مخ

ازطرف ملل متحد :

## برنامه چهار ساله بررسی سلامت محیط زیست آغاز گردید

بی بی سی :
دیروز به مناسبت روز جهانی محیط زیست برنامه چهار ساله یی برای بررسی سلامت محیط زیست و کره زمین آغاز گردید . در این برنامه را های برای بر طرف کردن اثرات آلودگی هوا و توسعه جهانی پیشنهاد خواهد شد .
نزدیك به یکهزار وپنجصد دانشمند و پژوهشگر در این پروژه که به ابتکار کوفی عنان سرمنشی ملل متحد آغاز شده به تحقیق و مطالعه خواهند پرداخت .
برنامه محیط زیست سازمان ملل متحد اعلام کرده است که : این پروژه مطالعاتی به شناخت روش های که عملکرد انسانها باعث به خطر
ص۴

## داسلامي نړي طبابت ته لنډه کتنه

۷ مخ

## په نیپال کې دشاهي کورنې دوژل کیدو انگیزی

## د تنبکو د اپیدیمی په هکله ځینې حقیقتونه

## اضراردودسگرت

ص ۳

# شريعت

دتأسيس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليکوال هيئت ترنظر لاندې
مسؤول مدير : الحاج ملا اسدالله «حنيفي»
مرستيال : غلام محمد فاروق
ديوي ګڼې بيه : په هېواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداري
ټيلفون : ۲۱۳۸۱ توزيع او شکايات :۶۲۸۵۹
پست بکس : (٤۷۱) کابل افغانستان
جاري حساب : $\frac{٤۰۳۸٥}{۷}$ د افغانستان بانک مرکز
چاپ : امارتي مطبعه


## دسرمقالې پاتې برخه

ټولنه کې دې له اخلاقي فساد ، فحشاء ، بې نظمي او تعصباتو خپرولو ته په کلکه ډډه وکړي . که څه هم اسلامي امارت داغوښتني بوازې او بوازې له خپل دين ، کلتور او ملي عنعناتو نه ددفاع په خاطر وړاندې کړي تر څو خپله افغاني ټولنه له هغو انحرافاتو وساتي چې دهېواد له نافذو او مسلمو قوانينو سره ټکر او د ډېرو اجتماعي ستونزو لامل ګرځي . خو له بده مرغه ځينو لويديځو تبليغاتي منابعو دغه اقدامات په يو ډول ملي او مذهبي تعصب او دبهرنيانو دځورولو او تنګولو په مانا تعبير کړي . مګر داخبره ببخي له حقيقته لرې ده او داځکه چې دنړۍ ټول هېوادونه چې په هغو کې ځيني دبشپړې ديموکراسۍ مدعيان هم شامل دي ، خامخا يو لړ داسې قوانين لري چې بهرنيان جبراً وربانندې مکلف او له هغو څخه تخلف قانوني جرم ګڼل کيږي . په هر صورت مونږ چې له بهرنيانو کومې غوښتنې لرو هغه مو په خپل هېواد کې د ننه او دخپلو ټولنيزو او ملي ګټو دساتني لپاره دي ، نه داچې دهغوی دتنګولو اويا په هغوی باندې دخپلو عقائدو ورتپلو لپاره ، مثلاً داغوښتنه موتړې کړې چې په ښکاره او عام محضر کې دې له شراب څښلو او خنځير غوښې خوړلو نه ډډه وکړي ، بايد ووايو چې لويديځ تبليغات په هر حال مسلمان ولسونه نه پريږدي خپل اسلامي اصول او ملي کلتور عملي او په مقابل کې دغربي ثقافت دخپريدو مخه ونيسي او په همدې اساس کله چې مسلمانانو ديوه اسلامي اصل دراژوندي کولو هڅه کړې ، لويديځ والو سمدلاسه د مذهبي تنګ نظرۍ او يا بشري حقوقو دمخالفت ټاپه وربانندې وهلې او عملاً يې دخپلو هغو شعارونو تکذيب کړې چې دبيلابيلو ټولنو درسم او رواج او مذهبي عقائدو ددرناوې په هکله يې پورته کوي . او لا ډېر د خواشينې ځاى دادې چې دوى په بوازې ډول اسلام او مسلمانانو سره دغه له دښمنۍ ډک چلند غوره کړی دی . په هر حال مونږ يو ځل بيا دخپل دې موقف څرګندونه کوو چې هيڅکله هم له نړيوالو سره دکوم متعصبانه چلند غوښتونکي نه يو بلکې بوازې او بوازې دخپل دين او ملي کلتور ساتنه ، دفاع او دخپلې ټولنې نظم ، اصلاح او سوکالي غواړو او دا زمونږ مسلم حق دی نو په کار ده چې نړيوال زمونږ له دې غوښتنو کړه مانا راونه باسي او په حسد دښمنۍ يې تعبير نه کړي

## داسلامي نړۍ طبابت ته لنډه کتنه

پوهاند عبدالحي مؤمن

داسلام دمقدس دين څخه تر مخه دافغانستان دطبابت په هکله لنډه څرګندونه :

طب او طبابت دبشر دخلقت سره جوخت منځ ته راغلي دي . يعني هغه لومړني انسان چې دالله (ج) په اراده ځمکې ته راغي دځان په فکر کې ؤ او دسړو ، تو دوخې او طبيعي آفاتو څخه به ئې ځان ګوښه کاوه او کله چې درد او رنځ ورته پېښ شو نو دهغه چاره به ئې وکړه .

پدې توګه وېلاى شو چې دانساني ټولني په تاريخ کې طب او طبابت د ټولو طبيعي علومو څخه لومړني علم او فن دي چې په مختلفو ټولنو او تاريخي دورو کې يې وده کړي او تر دې مرحلې پورې رارسېدلي دي .

که په جهاني سطحه دې علم ته نظر واچوو په لنډ دول دې نتيجې ته رسيږو چې :

۱- دطبابت او درملو سره آشنائي هغو مره قدامت لري لکه څرنګه چې بشريت ئې لري .

۲- په لومړي مرحله کې طبابت کورني او قبيلې پورې ترلې و او دزماني په تيرېدو او د تجربي په زياتيدو سره دغه علم او فن لاس په لاس وګرځېده او مراحل ئې تير کړل تر څو او سني حالت ته را ورسېد .

۳- تر ډېره وخته پورې طب او دوا جوړول د يو بل سره يو ځاى و .يعني په لومړيو وختونو کې يو سړي هم جراح ، هم طبيب او هم دوا جوړوونکې ؤ .

طب او دوا جوړولو مختلفې مرحلې تېرې کړې چې عبارت دي له مذهبي ، فلسفي ، تجربي او علمي مرحلو څخه .

- هغه ډېر زوړ سند چې په طبابت پورې اړه لري ۳٥۰۰ کاله قدامت لري . دا مرحله د روحانيت دوره وه او په اکثرو مذهبي کتابونو کې دطب په باره کې اشاره شوېده . لکه چې د زند او پستا کتاب بوه برخه چې طبابت پورې اړه لري . او وندېداد تومېږي .

- دفلسفي په دوران کې طبابت د يو نانيانو لاس ته ور غي چې مشهور پوهان ئې لکه جالينوس ، هيپو کرات او ارسطو يادولي شو .

- دتجربي دوران د اسلامي خلفاؤ د تسلط څخه شروع کيږي . ددوی په زمانه کې په بغداد کې د علومو اکادمي تاسيسيږي او زمونږ دخاوري او منطقي نامتو پوهان لکه :ابن سينا او زکريا رازي دطب او دوا جوړولو په برخه کې خاص مقام لاس ته راوړي . همدارنګه پدغه دوره کې دطب او فارمسي په منځ کې ورو ورو جلا والي راځي .

- علمي دوران د نولسمي پېړي په لومړيو کې شروع کيږي او تر ننه ورځي پورې ادامه لري .

څرنګه چې ګورو افغانستان ډېر زوړ او لرغوني تاريخ لري او شواهد ښئي چې د افغانستان ټولنه دميلاد څخه شل زره کاله مخکې موجوده وه . همدارنګه دميلاد څخه دوه تر دري زره کاله روميي دې وطن کې ګرځنه موجوده وه او دميلاد څخه زر کاله مخکې لاسي صنايع ، طب ، ستورپوهنه ، نجوم ، ټوکر اوبدل او فلز کاري وجود درلود .

داچې افغانستان لرغوني تاريخ لري دطبابت تاريخ ئې هم ډېر زوړ او پخواني دي . ځکه چې کله بشر خپل ځان پېژندلي دي د دردونو او پېښو سره مخامخ دي او ورسره طب او طبابت هم موجود دي .

او دوبار خبره داده هغه ډېر پخواني او لرغوني سند چې دطب په باره کې دي په افغانستان پورې اړه لري چې ۳٥۰۰ کاله پخوا منځ ته راغلي دي .

دزردشت په مذهبي کتاب کې چې دروحانيت دوره وه دطب او درمل په هکله ځانګړې برخه ورکړل شوېده چې دا کتاب د اوستا په نامه يادېږي او دبلخي زردشت له خوا منځ ته راغلي دي . دغه کتاب څلور برخې لري چې دېستا ، يشت ، وندېداد او يندهش په نامه يادېږي چې وندېداد ته ئې طبابت پورې اختصاص ورکړل شويدي .

او پستا دمعالجه کونکو درېو طبقو خلکو نوم اخلي يوه هغه چې په دعا او ديني رسوماتو (موېدانو) بله په دارو او پرهيز ( طبيبانو ) او دريمه طبقه چې په وسايلو او لوازمو ( جراحانو ) باندې شفا ورکوي . **پاتې لري.**

## په نيپال کې دشاهي کورنۍ دوژل کيدو انګيرنې

ناصر شاه سرحدي

دروان ۲۰۰۱ ميلادي کال دجون دمياشتي په ٤ دنيپال دهېواد پلازمېنه د« کتمندو» ښار ديوې زړه بوګنوونکي پېښې شاهد ؤ .

دنړيوالو سرچينو په حواله دنيپال په شاهي مانۍ کې ددې هېواد د پادشاه «بيرندرا» زوي دخپل مور او پلار په شمول دشاهي کورنۍ (۱۲) تنه غړي په اتومات ماشيندار ووژل چې نه بوازې ددې بېکلي هېواد خلک ئې دخپلو مشرانو په وير او ماتم کېښول بلکې بشري نړۍ ته ئې هم يو ټکان ورکړ .

دسلطنتي کورنۍ جګ پوړو مقاماتو يوه بېړنۍ غونډه وکړه او په هېواد کې بې دامنيتي ناآرامو ، لاريونونو او مظاهرو دبندولو په منظور بېړنۍ حالات اعلام کړل او دپاچا زوي وليعهد ئې دخپل پلار په ځاې وټاکه خو څرنګه چې د ي هم په دې غميزه پېښه کې دځان په ټپي کولو برېالي شوى ؤ دنيپال په يوه روغتون کې مړ شو چې په مرينې ئې دکورنۍ دغړو شمير (۱۳) تنو ته ورسيد . او تره (اکا) يې ګيا مهندرا » چې پخوايي دمحيط او چاپېرېال په چارو کې ښه شهرت موندلی ؤ دنيپال دپاچا په توګه وټاکل شو داوسني پاچا زوي «پاراس » په هېواد کې چندان ښه سابقه نه لري او څو کاله وړاندې يې دنيپال يو تکړه موسيقي غږوونکي په خپل موټر وواهه او دهغه د مړينې تورونه پرې لګيدلي . ددې غميزې علت د شهزاده د واده له مراسمو را پورته شوي خو دپېښې اصلي علت نه دي معلوم دسياسي کتونکو په عقيده ددې پېښې تر شاد هند د دولت لاس دې چې دخپل هېواد پولې ئې دنيپال دخلکو په وړاندې وتړلې او په دې برخه کې يې ټينګ امنيتي تدابير نيولي هغه تحلي چې شهزاده غوښتل واده ورسره وکړي دهندوستان دهېواد اوسېدونکې ده .

دنيپال دسلطنتي کورنۍ ښه ايښودونکي «مهندرا» د دافغانستان دمؤمن او مسلمان ملت دخلکو سره ځانګړې مينه او علاقه درلوده په کتمندو کې دافغانستان ديوه پخواني ديپلومات فقيد عبدالحکيم طبيبي په قول دهندوستان ديولو او په نړيوالو چارو کې له مانه مشوره غوښته چې داسياسي ستونځه حل کړو ؟

په ۱۹۷۳ ميلادي کال دافغانستان درسمي مقاماتو له خوا پاچا او ملکې ته رسمي بلنې ليږل شوې چې کابل ته يوه رسمي سفر راشي خو په هېواد کې دسردار محمد داؤد ديوځې کودتا له امله دا سفر سر ته ونه رسيد .

نيپال په دې چې پوري ښتې هېواد دي چې بحر ته هيڅ لاره نه لري او دجنوب ختيځې آسيا دهماليا د غرونو په لمن کې موقعيت لري.

## شفاخانه نور سالانه ده . . .

نور که مقر اصلي آن در علاوالدين کابل بود ، همه داشته هاي مادي اش قرباني خواسته هاي جنگ سالاران تنظيم ها گرديد با آنهم پرسونل اين شفاخانه که خدمت همنوعان مستضعف آرمان شان است در نقاط ديگر شهر به شکل مهاجر خدمات انساني خويش را انجام ميدادند .

محترم مولوي سيد عبيدالله ابو عبيد » رئيس شفاخانه نور در مورد کار کرد ها و خدمات انساني پرسونل اين شفاخانه به خبر نگار ما چنين بيان داشت:

شفاخانه نور در دوبخش ( زنانه و مردانه ) و سيزده تن طبيب ذکور و پنج تن طبيب اناث و همچنان هفده تن نرس ذکور و اناث در تعمير پولي کلينيك مرکزي وزارت صحت عامه فعاليت دارد .

در اين شفاخانه روزانه حدود دو صد تن از هموطنان ما تداوي ومعاينه ميگردند که آنعده از خواهران و برادراني که ايجاب عمليات چشم را ميکنند داخل بستر گرديده و بيشتر از بيست عمليات در روز موفقانه صورت ميگيرد .

شايان ذکراست که اين شفاخانه ازآخرين اختراعات وانکشافات جهاني استفاده مطلوب نموده که نصب عدسيه و يا لينز در داخل چشم يکي از نمونه هاي اين پيشرفت است که عمليات اين نوع مريضان نتايج خوبي را نيز به بار آورده است

محترم مولوي سيد عبيدالله «ابوعبيد» در مورد کمک هاي مؤسسات خيريه خارجي و توزيع ادويه براي مريضان چنين گفت :

شفاخانه نور را مؤسسه I.A.M يك اندازه کمك مالي ميکند اما چون شفاخانه نور در سطح کشور يگانه شفاخانه چشم است و اکثر مريضان مارا هموطنان ما که از ولايات غرض تداوي مراجعه ميکنند تشکيل ميدهد بناً شفاخانه به کمك بيشتر نياز دارد که از مؤسسات خيريه خارجي ديگر نيز توقع داريم ما را کمك و ياري رسانند .

همچنان ادويه در شفاخانه نور بيست فيصد ارزانتر از نرخ بازار براي مريضان توزيع ميگردد .

شايان ذکر است که شفاخانه نور در هر سال ده آي کمپ ( کمك هاي صحي چشم به شکل سيار) را در ولايات اجرا ميکند که مطابق پلان در هر ماه يك آي کمپ صورت ميگيرد که مصرف يك آي کمپ اضافه تراز دو صد و دوازده مليون افغاني ميشود . گذشته ازآن تداوي مريضان که به شکل واقعات عاجل و مريضاني که به شکل گلوکوم (مريض خطر ناکي که ٤۸ ساعت وقت دارد ) مراجعه ميکنند .

از طرف شفاخانه مجاني صورت ميگيرد ، همچنان براي اشخاص فقير وبي بضاعت هم کمك صورت ميگيرد .

محترم «ابوعبيد» دراخيرافزودند:

ماتلاش ميورزيم تا در زمينه خدمات بهتر صحي مطابق به شرايط و خصوصيات خاص در خدمت هموطنان قرار گيريم که اين مأمول به تنهايي بر آورده شده نمي تواند به اين صورت ما ارتباطات وسيعي با مؤسسات ملي و بين المللي در سطوح مختلف انجام داده و ميدهيم و اميدواريم بتوانيم با وجود مشکلات فعلي خدمات قابل ملاحظه اي را به هموطنان نياز مند خويش انجام دهيم.

«عمر عبدالله»

## درشفاخانه حوزوي خواجه عبدالله انصاري(رح) . . .

ما در ۰۰ ه سکشن تقسيم شد ه و هر سکشن بنوبه خود هم اورتوپيدي ، ترومانولوژي و هم امور جراحي و بخش عاجل را کار مينمايند .

طوريکه مبرهن است اورتوپيدي ، ترومانولوژي بانظر داشت و اقعات انتاني ، استخوان ، مفاصل ، صدمات جنگي ، تصادمات زياد ترافيکي صدمات و آسيب هاي سپورتي ، سقوط و انواع ديگر صدمات و انور مالي ها ( سوء اشکال بدن) قابل ارزيابي ميباشد .

امروز ارتوپيدي در بين بخش هاي جراحي از اهميت فوق العاده بر خور دار ميباشد در جريان عمليات هاي اورتوپيدي ، ترومانولوژي همچنانکه . علميت يا دانش تخصصي و مسلکي ، تجربه ومهارت طبيب معالج و عمل کنندو نقش تعين کننده دارد ، لوازم و تجهيزات طبي نيز از اهميت بسياري بر خوردار ميباشد .

باآنکه بدون وسايل و تجهيزات لازم ، نبايد به عمل جراحي مبادرت و رزيد و بجان و حيات و سلامت مريض اهميت فراواني قايل شد ، با وصف آن ، بسياري از مريضان سکشن جراحي ، معالجه و تداوي و پس از عمليات و صحت يابي مرخص ميشوند .

محترم الحاج طبيب فريدون«اشلك» که متخصص در سکشن جراحي اين شفاخانه ميباشد ، افزود:

در بخش اورتوپيدي سي بستر فعال و آماده پذيرش بيماران و مجروحان ميباشد که بعضاً اين تعداد بستر به نسبت کثرت نفوس مراجعين ، کافي نميباشد . به نظر من اين سکشن پس از تجهيز و تکميل وسايل مربوط بايد ، مستقلانه عمل نموده و به لحاظ و سعت خدماتي آن ، بايد از ساير بخش هاي شفاخانه حوز وي جدا گردد

محترم « اشلك » در جواب سوال ديگري ضمن اشاره به کمبود طبيب و پرسونل مسلکي و خدماتي گفت :

در سرويس عاجل شفاخانه روزانه حدود سي تا چهل واقعه مراجعه مينمايد که شامل مجروحان و مريضان جراحي و ارتوپيدي ميباشد . علاوه بر اين روزانه مريضان روتين که تعداد شان به ده نفر در روز ميرسد ، از طريق مديريت نرسنگ شامل بستر ميگردند .

البته خدمات در تمام سطوح اين سکشن رايگان بوده و به مريضان بي بضاعت و مستحق ادويه رايگان توزيع ميگردد . مگر براي توسعه و تجهيز بخش اورتوپيدي لازم است تا از يکجا لب طبيبان ورزيده ، توظيف شوند و از جانب ديگر با آموزش و ترينات لازم ، دستياران خوبي در جريان عمليات ها باشند .

مشکل تامين تجهيزات و وسايل و کمبود پرسونل يا از طريق کمك هاي خارجي و يا در اثر مساعي و تلاش بيشتر رياست محترم صحت عامه، قابل ارزيابي ميباشد

با وصف حالات موجود ، ماهمواره به عمليات هاي مهم و بزرگي چون عمليات ستون فقرات و مفاصل اقدام نموده ايم و موفق هم بوده ايم ، ليکن يکتعداد زياد بستر هاي ما ، مملو از واقعات اختلاطي ناشي از مداخله غير معقولانه شکسته بند ها ميباشد که اين مشکل از طريق ۳ - ٤ ساعت قبول زحمات ، و مشکلات مرفوع گرديده و برخي و اقعات لاعلاج ميباشد و مريض متاسفانه براي هميش معيوب و ناقص العضو باقي ميماند .

گزارشگر عطا محمد فريادي

# روغتیا او ټولنه

دسید یوسف شریفي امر خیل په زیار

## له تنبکو څخه دخلاصي نړۍ، دنړۍ والي ورځې په مناسبت

# له تنبکو څخه د خلاصي نړۍ، نړیواله ورځ ولمانځل شوه

**کابل – شریعت :**

د مې د میاشتي یو دیرشمه نیټه چي له تنبکو څخه د خلاصي نړۍ، له نړیوالي ورځي سره برابره ده ولمانځل شوه .

په هغي غونډه کي چي له همدي امله د تیري یکشنبې په ورځ له غرمې مخکي په کابل کي دنړۍ د روغتیایي سازمان (W.H.O) په دفتر کي، ددغه دفتر د غړو، د اړوندو امارتي ادارو د رئیسانو، د بوشمیر غیر حکومتي موسسو د استازو او دهیواد د ډله ییزو خپرونو د وسایلو د بوشمیر خبریالانو په ګډون جوړه شوي وه لومړي د محترم قاري جمشید له خوا د کلام الله مجید څو مبارک آیتونه ولوستل شول .

بیا د عامي روغتیا وزارت د بهرنیو اړیکو رئیس محترم مولوي شمس الدین حقبار د نشه يي توکو او په ځانګړي ډول د تنبکو او سګرټو د استعمال د ناوړه عواقبو او دهغو دروغتیایي، مالي او شرعي زیانونو په باب اوږدي خبري وکړي او د غونډي دبرخوالو پام يي یوځل بیا د سګرټو دنه څکولو په باب د عالیقدر امیرالمؤمنین ځانګړي فرمان ته را واړاوه .

وروسته په کــــابل کي دنړۍ د روغتیایي سازمان (W.H.O) د دفتر مسئول محترم ډاکټر بشیر نورمل له تنبکو څخه د خلاصي نړۍ، د نړیوالي ورځي په مناسبت د دغه سازمان د ختیځي مدیترانې د سیمه ییزي ځانګړي د مشر ډاکټر حسین جزایري د ځانګړي پیغام پښتو متن د غونډي برخه والو ته واوراوه .

وروسته بیا د عامي روغتیا وزارت د وقايوي طب لوي رئیس محترم ډاکټر آقاګل دوست، د معالجوي طب لوي رئیس محترم ملاعبدالحکیم حکیمي او د رواني ناروغیو دروغتون مرستیال محترم ډاکټر سید عبدالاحد آواره په وارسره دموضوع په باب اوږدي او هراړخیزي خبري وکړي او دتنبکو د استعمال ناوړه پایلي بي جوتي کړي .

غونډه د رواني ناروغیو د روغتون د رئیس محترم مولوي محمدتواب صدیقي له خوا د دعایي په لوستلو سره پای ته ورسیده .

**سید یوسف**

# اضرار دود سگرت

بی اشتهایی – فساد دندان ها ، سوء هاضمه کاهش مقاومت بدن در مقابل انواع بیماری ها و هم چنان کــــانیکه دود سگرت را در اجتماعات و ملاء عام در فضا رها می سازند اختلالات شدید ، بی نظمی در گردش خون ، پیری زود رس و بالا رفتن فشار خون را به معتادان بار می آورد .

دانشمندانیکه در مورد اضرار سگرت بر حیات سگرت کش ها و آن هاییکه در معرض دود آن قرار می گیرند تحقیق کرده اند ابراز عقیده می کنند که سکته های ناگهانی و مهم عامل موثر ابتلا به سرطان است تا ان حــیکه [illegible] ملیون جمعیت جهان ۲۲۸ نفر تنها قربانی سرطان ناشی از استعمال سگرت می شـــوند هم چنان از تاثیرات سوء سگرت بر وجود انسان را می توان در بندش شرائین و جود وچین و چروك در پوست بدن دید .

از آن جاییکه کشـــور های صنعتی جهان از درك تولید سگرت وو جود فابریکه های سگرت سازی مبالغ هنگفت را بدست می آورند . آنها با این منبع پولی توجه دارند واز سوی دیگر مسئولین صحی ودولتی تحت تأثیر فشارهای محققان ودانشمندان امور صحی بین المللی دستوراتی را مبنی بر نشان دادن اضرار سگرت به مردم خاصتاً سگرت [illegible] صادر شده اند .

منع کشیدن سگرت در ادارات ، شفاخانه ها ، موسسات تعلیمی ، جاهای مزدحم شهرها وفابریکات از کارهای خیلی ساده است که کشور ما هم اکنون در مورد تطبیق مقرراتی درباره آن شده است .

ازطرف دیگر در بسیاری از فابریکات سگرت سازی این یك امر مسلم است که در بالای جعبه ها وقطی های سگرت مقدار مواد مضره آنرا بنویسند تا معتادان وسایر مردم آنرا برای وقایه صحت وسلامت شان در نظر بگیرند .

**شاگرد**

# د تنبکو د اپیدیمي په هکله ځیني حقیقتونه

**ډاکټر آقاګل دوست**

تنباکو له هري بلي ناروغي زیات دمړیني او معلولیت لوی لامل دی . دنړیوالي روغتیایي اداري د اټکل له مخي همدا اوس زموږ په نړۍ کي تر ۱۱۰۰ ملیونو زیات کسان سګرټ څکوي چي دا دټولي نړۍ له ۱۵ نه د زیات عمر لرونکو کسانو دریمه برخه جوړوي د دوی اته ملیونه په پرمختیایي هیوادونو کي ژوند کوي . له ۱۹۸۰ میلادي کال را په دې خوا دسګرټو لګښت د هربالغ وګړي په سر په کال کي ۱۶۰۰ ته رسیږي . د موجودو شمیرنو له مخي د نړۍ د نارینه ؤ ۴۸ او د ښځینه ؤ ۱۲ په سلو کي سګرټ څکوي . په ۱۹۹۰م کال کي د نړۍ په پرمختللو هیوادونو کي د ټولو مړینو په سلو کي ۱۴ دسګرټو له وجي اټکل شوي دی او په ۲۰۲۰ م کال کي به د ټولو مړینو په سلو کي ۲۲ د سګرټو د استعمال له کبله وي . په اوس وخت کي تنباکو په کال کي د دري نیم ملیونو یعني دټولو مړینو ۷٪ مسئول دی او دهرو ۱۰۰۰ متریک ټنو تنباکو په مقابل کي چي په نړۍ کي تولیدیږي ۱۰۰۰ کسه خپل ژوند له لاسه ورکوي . تنباکو د ۲۵ ډوله ناروغیو څرګند او مهم عامل دی . د سږو سرطان یا کنسر یو له هغي جلي څخه دی . په ۱۹۹۵ م کال کي یوازي په پرمختللو هیوادونو کي ۵۱۴۰۰۰ کسان د دي ناروغي له امله مړه شوي دی . په سګرټو عادت کیدل د عامي روغتیا یو څرګند پرابلم دی چي دتنبکو تیتو له کبله را منځته کیږي او جدي پاملرنې ته اړتیا لري .

د میندو سګرټ څکول کیدی شي د نطفي یا جنین د ضایع کیدو ، دماشوم د کم وزني او دهغه د ودي دکمښت یا مخنیوي سبب شي .

دغه راز کــه مور او پلار سګرټ څکوي ماشومان يي زیاتره په تنفسي ناروغیو لکه : برونشیت ، زکام او سینه بغل باندي اخته کیږي . په سګرټ څکوونکو کي د سګرټ نه څکوونکو په پرتله د سږي دکنسر له وجي د مړیني خطر ۱۰۰ ځلي ، دمري ، تونکي ، سږي غاړي او خولي دکنسر له کبله ۶ ځلي ، دمعدي دزخم له امله ۳ ځلي او دزړه دناروغیو له کبله ۲ ځلي زیات دی . د تنباکو لوګي د ۴۰۰۰ په شا وخوا کي کیمیاوي مواد لري چي زیاتره يي زهري دي او دسرطان سبب کیدی شي دغه راز تنباکو د نړۍ اقتصاد ته زیات زیان رسوي دنړیوال بانک د څیړني له مخي په ۱۹۹۳ م کال کي د تنباکو د استعمال له وجي د نړۍ وګړوته د ۲۰۰۰ بلیونو ډالرو په شاوخوا کي زیان رسیدلی دی چي دغه اندازه د ټولو پرمختیایي هیوادونو له روغتیایي مجموعي بودجي څخه زیاته ده .

د سګرټو پرښودل خورا زیاتي روغتیایي ، اقتصادي او ټولنیزي ګټي لري او په ځانګړي ډول د اړوندو ناروغیو خطر کموي څکه نو ددغه ناوړه عمل پرښودل په هر عمر کي چي وي ډیر ګټور دی

## په سګرټو د اعتیاد دناوړه پایلو په باب خبرداری

دنړۍ روغتیایي سازمان (W.H.O) تیــــره اونۍ په سګرټو باندي د اخته کیدو دناوړه پایلو په باب خبرداری ورکړ .

د نړۍ د روغتیایي سازمان په نړیوالو نوي رپوټ کي راغلي دي چي په سګرټو باندي د اخته کیدو ناوړه اغیزي زیاتره په هغو ښځو کي لیدل شوي دي چي سګرټ څکوي .

رپوټ څرګندوي چي په سګرټو اخته کیدو په ځانګړي ډول په ښځو کي ناوړه حسي اغیزي رامنځته کړي او هغوی يي په بیلابیلو ناروغیو لکه سرطان اخته کړي دي .

د نړۍ د روغتیایي سازمان د رپوټ له مخي په اوس وخت کي د جاپان ، امریکا او المان په هیوادونو کي زیاتره ښځي په سګرټ څکولو باندي معتادي شوي دي .

رپوټ زیاتوي چي په سګرټو اخته کیدو په ښځو کي دمړیني اندازه ډیره زیاته کړي او پایي په سختو [illegible] ستونزو او ناروغیو اخته کړي دي [illegible]

# په پښتو شعرکي مذهبي څرکونه

د ثبات لیکنه او څیړنه

(۳)

**په پټه خزانه کي :**

پټه خزانه چي د ملي ادبیاتو د ډیرو ارزښتمنو اثارو او د پښتو ژبي د ډیرو نفیسو کتابونو او مهمو اسنادو څخه شمیرل کیږي په (۱۱۴۱) او (۱۱۴۲) هـ ق کلونو کي د افغانستان د ملت پالونکي او نامتو پاچا اعلیحضرت شاه حسین هوتک په امر د محمد بن داؤد خان بن قادرخان هوتک چي ددي علم دوست پاچا د دربار یو وتلي شخصیت ؤ په واسطه په کندهار کي چاپ شوه پټه خزانه د پښتو ادب او شعر تاریخ له ۱۰۰-۱۱۰۰ هـ ق کلونو پوري احتوا کوي د پخوانیو او اوسنیو (۵۰) شاعرانو شرح حال او د اشعارو غوني پکي شاملي دي په دي مبحث کي یوازي د هغو شاعرانو د شعرونو ځیني برخي تربحث لاندي نیول کیږي چي د دي اثر له هدف او اقتضاء سره سمون لري .

۱ – د شیخ متي غوریا خیل سړبني په شعر کي :

څرنګه چي د شیخ متي بابا کتاب « دخدای مینه » نومیده نو خپل بحث دحسن مقدم په توګه له همدي کتابه پیل کوو :

شیخ متي قدس الله سره په ۶۲۳ هـ ق کي زیږیدلی او د ۶۵ کالو په عمر د ترنک په غاړه وفات شو او په هغي لوړي غونډۍ ښخ دی چي کلات باله شي .

وایي چي شیخ متي بابا لوی زاهد او عابد او په لوی خدای « ج » مین سړی ؤ په یو بل روایت کي نقل کا : چي شیخ متي بابا لوی عالم او د دین مرشد ؤ په غندان کي يي یو کتاب کښلي چي نوم يي « دخدای « ج » مینه » ؤ په دغه کتاب کي متي بابا خپل شعرونه هم وکښل او داسي مناجاتونه يي وویل چي زړونه يي وبلي کړل ... ( پټه خزانه ، محمد بن داؤد ۱۱۴۱ هـ کندهار ، ۲۲-۲۴ مخونه )

متي بابا په خپل بوه مناجاتي شعر کي د طبیعت په مظاهرو کي د لوی خدای « ج » د بي مثاله خلقت د مظاهرو او دهغه ذات دجمال او کمال جلوي ستایي : دي په بوه برخه کي وایي :

که لمر رو ښانه ، مخ يي سپین دی
یا دسپوږمیه تندی ورین دی
که غر دي ښکلي پرګین دی
لکه هنداره مخ يي سپین دی
ستا دښکلا دا پلوشه ده
دا يي یو سپکه ننداره ده

په همدي مناجات کي بیا د رب المنان د ابدي جمال او کمال د تمثالونو د رڼا څرکونو ته داسي ګوته نیسي :

خاونده ! ښکلي ستا جمال دی
ښکاره يي لور په لوړ کمال دی
که ورځ که شپه که پیري کال دی
ستا دقدرت کمکي مثال دی
ستا د لوروتو بوه رڼا ده
دلته چي [illegible]

که له خدای سره د شیخ متي بابا د همدي شعر لاندني څو برخي بي څیړني او بي تبصري وړاندي شي بیا هم په ډیر صراحت سره د ده د آشنیني او پاکي مینې او دخدای « ج » دحسن د تجلیاتو جاج تري اخیستل کیدای شي لکه چي وایي :

زړه مي داستا دمیني کور دی
سوی دعشق په سوځند اور دی
رب يي وتانه ، ستا پرلور دی
بې له دي هیڅ دی ، ورک يي پلور دی
ستا دجمال په لیدو ښاد دی
که نه دي دغه ، نور برباد دی
په غرو کي ستا دعشق شپیلکي دی
د دي نړۍ ، په عشق سمي دی
که غټ که ووړ که پند لري دی
ستا دجمال څري هر شی دی
چي پر دنیا مي سترګي پري سوي
ستا دجمال په ننداري سوي

او بیا د خپل شعر په بوه برخه کي وایي چي دجهان د پیدایښت فلسفه دهغه لوی ذات دجمال او کمال بوه جلوه ده :

نه هسک نه مځکه وه نور تم ؤ
تیاره خپره وه ، ټول عدم ؤ
نه دا ابلیس ، نه يي آدم ؤ
ستا دجمال سوځه پرتم ؤ
چي سوښکاره ښکلي دنیا سوه
د ښخ په لوري يي رڼا سوه

شیخ متي بابا دخپل شعر په وروستي برخه کي دخپلي میني مبدأ هم له خپل پیدایښت چي دهغه ذات دجمال د تجلاؤ له لیدلو راهیسي ګني وایي :

زه چي څرګند په دي دنیا سوم
د ښکلي مخ په تماشا سوم
ستا په جمال باندي شیدا سوم
له خپلي ستي را جلاسوم
په ژړا ژاړم ، چي بیلتون دی
[illegible] ، بل مي تون دی
( پټه خزانه ۲۶-۲۸ مخونه )

پاتي لري

# اعلانات

ریاست اوقاف وزارت حج و اوقاف بیست یك باب دکاکین پل خشتي خویشرا در سال ۱۴۲۲ به کرایه میدهد .

اشخاص و موسساتیکه خواهش کرایه گرفتن آنرا داشته باشند در خواست هاي خویشرا بریاست اوقاف واقع شهر نو بسپارند و خودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۳/۱۳ تا ده روز مراجعه نمایند شرط نامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

# # #

معدن گل سفید للندر ولایت کابل و معدن اول خیل ولایت میدان طور قرار داد به اجاره داده میشود ، اشخاص و موسساتیکه خواهش قرار داد انرا داشته باشند درخواست هاي خویشرا بریاست تصدي استخراج معادن بسپارند و خود شان از تاریخ ۱۴۲۲/۳/۱۳ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

# # #

وزارت زراعت و مالداري شش قلم سامان آلات ازقبیل ماشین اره برقي و اره دوسره(تیر) را با محمد فرید سلطاني به قیمت مجموعي مبلغ هشتـــاد ودو ملیــون وپنجصدوهفتادوپنج هزار افغاني قرار داد مینماید .

مناقصه کننده گان در خواست هاي خویش را به وزارت زراعت بسپارند و خودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۳/۱۳ تاده روز مراجعه نمایند مشخصات را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

# # #

صحنه بهاري چمن بادکاکین مربوط آنرا محمد انور فرزند محمد بیگ ماهانه مبلغ ده ملیون افغاني براي مدت سه سال به اجاره میگیرد .

مزایده کننده گان درخواست هاي خویشرا بمدیریت خدمات وزارت اطلاعات و کلتور بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۳/۱۳ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

# # #

صادقه بنت سید رحمن یك دربند حویلي ملکیت خویش واقع کلوله پشته ناحیه چهارم را به ضمانت سید غلام فرزند ضیاء ، غریب که در مربوطات ریاست برق کابل بحیث معتمد مقرر میگردد قرارمي دهد ، نامبرده اگر به دوایر و موسسات مسولیت و باقیداري داشته باشد از نشر اعلان تاده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت .

# # #

محمد وسیم فرزند حافظ محمد حسن اصالتاً یك دربند حویلي ملکیت خویش واقع ناحیه هشتم را بالاي اکرام الدین فرزند امام الدین بفروش میرساند .

اشخاص و موسساتیکه در مورد حویلي مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تاده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت .

# # #

ورثه محمد کبیر فرزند محمد عیسی یك در بند حویلي ملکیت خویش واقع ناحیه چهارم را بالاي غلام و امین جان ولدان میراحمد بفروش میرساند .

اشخاص و موسساتیکه در مورد حویلي مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تاده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت .

# # #

شیر محمد فرزند درمحمد وکالتاً یك دربند حویلي ملکیت خادم حسین فرزند حسین علي واقع ناحیه چهارم را بالاي عبدالستار فرزند عبدالغفار بفروش میرساند .

اشخاص و موسساتیکه در مورد حویلي مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تاده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت .

# # #

سید میرزا فرزند حاجي غلام حیدر یك دربند حویلي ملکیت خویش واقع ناحیه پانزدهم را بالاي محمدمراد فرزند محمدنعیم بفروش میرساند .

اشخاص و موسساتیکه درمورد حویلي مذکور ادعا داشته باشند از نشر اعلان تاده روز بریاست محکمه وثایق شهر کابل اطلاع دهند در غیر آن حق شکایت را نخواهند داشت .

###

تصدي هوتلها چهار باب دکاکین منزل تحتاني هوتل پارك را به کرایه میدهد .

شایقین درخواست هاي خویشرا بمدیریت خدمات تصدي هوتل ها بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۳/۱۴ تاده روز مراجعه نمایند شرط نامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

# # #

بتعداد بیست دو جوره تایر معه طیوب به سایز هاي ۱۴ در ۶۵۰ و ۱۳ در ۵۶۰ و ۲۰ور ۹۰ - و۱۵ بردار ضرورت دارد .

اشخاص و موسساتیکه خواهش رسانیدن آنرا طور قرار داد داشته باشند در خواست هاي خویشرا بریاست اداري شاروالي کابل بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۳/۱۳ تاده روز مراجعه نمایند شرط نامه را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

# # #

وزارت معارف براي مدرسه مسعود سعد به یك تعمیر که از هژده الي بیست و چهار اطاق داشته باشد ضرورت دارد .

اشخاص و موسساتیکه در ساحه قلعه موسي و قلعه فتح الله چنین تعمیر داشته باشند وبکرایه بدهند درخواست هاي خویشرا بمدیریت خدمات وزارت معارف بسپارند و خودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۳/۱۳ تاده روز مراجعه نمایند .

# # #

احمد شاه معاون شرکت تجارتي سوپر ترانس لمتد مقدار شصت تن کاگو لیانت مورد ضرورت شبکات انجنیري تصدي فابریکات کود وبرق مزار شریف راني تن مبلغ چهار صد ونودوشش دالرامریکائي قبولگردیده است .

مناقصه کننده گان درخواست هاي خویشرا بریاست عمومي انسجام امور و صنایع وزارت معادن و صنایع بسپارند و خودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۳/۱۳ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه ولست مشخصات را ملاحظه کرده میتوانند تضمین اخذ میگردد .

## نامه وارده

**با اداره محترم روزنامه وزین شریعت!**

اسلام علیکم ورحمته الله وبرکاته

صحت وسلامتی و مؤفقیتهای بیشمار دنیوی و اخروی کارکنان شریف روزنامه را از بارگاه خداوند (ج) استدعا مینمایم .

امابعد :

لطفاً مشکل حایل و مواجه که دامنگیر اهالی منطقه مارکیت دوم پروژه جدید خیرخانه که از لحاظ کمبود و یا مطلقاً نبودن آب اشامیدنی میباشد تحت کلیشه نامه های وارده بروزنامه شریعت انعکاس بدهید .

منطقه پروژه جدید نسبت بدیگر ساحات خیرخانه نسبتاً در سطح موتفع مؤقعیت داشته چاهای آب که بداخل حویلی ها حفر گردیده ، عمق آن از ۳۵ الی ۷۰ متر بوده که کشیدن یك دولچه آب از عمق متذکره کار اسان نیست .

سه ویا سه ونیم سال قبل کار نلدوانی درین محل صورت گرفت و بداخل نمرات تعداد زیادی از باشند ه گان نل آب تمدید و کتابچه محصول هم داده شد . که مشترکین بوقت معینه محصول باالقطع نل آب را بحساب مربوط تحویل نموده و مینمایند ، در حالیکه قطره ای آب گلوی نل وشیردهن را درین مدت یاد شده تازه نکرده است .

در ین چند سال اخیر که نسبت خشکسالی سطح آب پایان آمده وچاها خشك شد . مردم این محل در جستجوی مقداری آب مورد ضرورت از بوشکه های ۲۰-۳۰ لیتره و گیلنه های پنج لیترهٔ استفاده میکنند ناگزیز اهالی منطقه به زون آبرسانی خیرخانه مراجعه و عریضه دسته جمعی تقدیم نمودند . آمریت زون فرمودند که در ساحه مربوط شما سه عدد وال ضرورت است که با نصب نمود ن آن آب جریان مییابد ولي وال مطلوبه را مابد سترس نداریم عریضه را رسماً بریاست محترم آبرسانی مرکزی رجعت دادند ریاست آبرسانی بجواب نوشتند که از وال های دست داشته در ساحه استفاده نمائید . ورفع مشکل نمائید زون خیرخانه بجواب نوشتند که ما در ساحه وال فالتو نداریم . ریاست مرکزی موضو ع رابه انجنیر مربوط محول فرمودند تا از نزدیك ساحه را بررسی و نتیجه را ارائه بدارد . مدت زمانی گذشت کدام انجنیر جهت بررسی در ساحه ندیدیم . لذا باردیگر چند نفر به صفت نماینده بریاست محترم آبرسانی مراجعه کردیم این بار از طرف ریاست آبراسانی مرکزی گفته شد که جریان را به صلیب سرخ نوشته ایم شما بانجا مراجعه کنید این بود فشرده مشکلات بی آبي محل متذکره که فوقاً توضیح گردید . حالا فقط منتظر رهنمائی هستیم که : دروازه صلیب سرخ که یك مؤسسه خارجی است در حالیکه کدام اسناد هم در دست نداریم اهالی دق الباب کند بهتر است ، ویا اینکه وظیفتاً مسؤلین مربوط .

در غیر آن مهربانی کرده بگویند که : کجا رویم چی کنیم حال دل کیرا گوئیم

با تجدید سلام ها واحترامات

حاجی عبدالهای (مدعا) به نماینده گی از اهالی منطقه

## دافغانستان اسلامي . . .

ښکاره ډول د شرابو څکل یا په اوچت اواز ناقوس او موسیقي غږول له هغه دی امله د اسلامي امارت په قانون کی په نظر کی نیول شویده چي د خارجي اتباعو دخبرولو لپاره باید دوی په دغو ټکو وپوهول شي ترڅو د تخلف په صورت کی دمشکل سره مخامخ نه شي .

د اطلاعاتو او کلتور وزیر زیاته کړه : په نظر کی دي چي له هغو خارجي اتباعو څخه چي افغانستان ته راځي د راتلو په وخت کی تعهد واخیستل شي ترڅو دوی په آینده کی دهغه رعایت ته متوجه اوسي په دغه تعهد نامه کی دممنوعه مالونو نه قاچاقول ، بربنډ نه ګرځیدل په ښکاره د ختخیر د غوښو ، چرسو ، مخدره موادو نه استعمالول د اسلامي امارت او زموږ دخلکو دعقیدي پرخلاف د فرهنګی موادو نه توزیع کول افغانانو باطلو ادیانو ته نه دعوتول د ښځو سره ناروا جنسي قرابت نکول د تخلف په صورت کی اسلامي امارت کولی شي چي د جرم په تناسب یا نوموړی خارجي تبع له افغانستان څخه اخراج کړي یا یې له دري ورځو څخه تر لسو او له لسو ورځو څخه تر یوی میاشتي بندي کړی .

د ښځو سره د ناروا اجنبي اړیکو په اړه به د اسلامي شریعت سره سم سزا ورباندي عملي کیږي .

د اطلاعاتو او کلتور وزیر زیاته کړه : دغه تصمیم ددې په خاطر نیول شویدی چي افغاني جامعه د انحرافي کارونو څخه وساتل شي او په ښکاره ډول ددغو جرمونو د منع والی علت هم دادی چي ددغو کارونو په ښکاره والي سره جامعه د انحرافي کارونو سره عادي کیږي چي دا زموږ دخلکو له عقیدی سره ډیر واټن لري .

محترم جمال زیاته کړه : ځینې مطبوعات زموږ اصلاحي قواعد بل ډول معرفي کوي په دې وسیله خپل تبلیغاتي بازار ګرمول غواړي او حقایق مسخ کوي د مثال په ډول په دغي تعهد نامه کی دشرابو د څښلو یا دختخیر دغوښي خوړو سره د ښکاره استعمال قید لیږدلی دی چي دا زموږ مسلم حق دی چي هغوی باید عام محضر کي داسي کارونو څخه منع کړو چي هغه جامعه خرابوی خو مطبوعاتو بیا د مطلق شراب او ختخیر د منع رپوټ ورکړی .

محترم جمال په اخر کي وویل : دخارجي اتباعو څخه د تعهد اخیستلو دغه پروسه تر اوسه نه ده عملي شوي خو په نږدې راتلونکي کی به په دې عمل شروع شي او دا اقدام ددې لپاره نه دی چي خارجي اتباع پری تنګ شي بلکی ددې رعایتول هیڅ کوم مشکل کار نه دی او هغه څوک چي مشکلات پیدا کول غواړي نو داسي مسایلو ته هوا ورکوی .

دغه راز د اطلاعاتو او کلتور وزیر په کندهار کی د آی . سی . آر . سی کمیټي په روغتون باندي بریدرد کړ او زیاته یې کړه : په کندهار کی دغه موسسه هیڅ روغتون نه لري او دغه راز ده په هرات کی په مرکزي روغتون باندي د امر بالمعروف د موظفینو برید هم له حقیقت څخه لري وباله .

## په کابل او کندهار . . .

دهغه فرمان له مخی چي په ۷۹۵ ګڼه رسمي جریده کي چاپ شوی دی په کندهار کي دزیږي دښتي دځمکو او په کابل کي دیګرامیو دبت خاک دځمکو د توزیع کار په عملي ډول پیل شوي دي او هر هغه څوک چي دبو زراعتي شرکت توان ولري د پنځو کالو په قسط ورکول کیږي البته په دغو شرکتونو کي دمالداري او چرګانو روزني فارمونه دپاره ونیول دي او که څوک ونښي کولای چي دغه ځمکه په پنځو کلو کي اباده کړي د کرنې وزارت لخوا بیرته ځني اخستل کیږي او بل داچي د کرنې وزارت په هغه سروي کې چي په ۱۳۵۴ او ۱۳۵۵ هـ.ش کلونو کښي تر سره شوي وه په هیواد کي بې دځمکو دخاوندانو شمیر ۱۲ لکه ښودل ؤ چي په هغه کي ۸ لکو تنو ته احضار پاڼي ورکړل شوي وي او سرکال دغزني ، زابل ، خوست ، ګردیز ، پکتیکا ، قندهار ، ارزګان او هلمند ، په ولایتونو کي د ۲ لکو احضار پاڼو کار په عملي ډول روان دي او موږ په دي خبره هم غور کوؤ تر څو هغه امارتي ځمکي چي شاړي پاتي دي مستحقو او بې ځمکو خلکو ته مفتي ورکړو

محمد رفیق «عزت»

## دبوی مدرسی دبنسټ . . .

جوړه شوی وه دکابل محترم والي دینوونی او روزني داهمیت او ارزښت او دتعلیمي مرکزونو دجوړولو دارتیا په باب خبری وکړی او دامام مسلم (ع) مدرسی دبنسټ ډیره یې کینبوده .

دغه مدرسه دلوست لس خوني بوجومات او نور ضروري ملحقات لري .

او زموږ دیوتن علم دوست هیواد وال محترم دبار په شخصي لګښت جوړیږي .

## دافغانستان اسلامي امارت . . .

نصرالله ستانکزی د بهرنیو اتباعو د ژمنې په اړوند ددغه ټکي دځرګندولو په ترڅ کی د باختر اطلاعاتی اژانس خبریال ته وویل : هر هیواد ځان ته ځانګړی قوانین او مقررات لري او ددغه هیواد تر واکمنی لاندی سیمو کی دکورنیو او بهرنیو اتباعو لخوا دهغو رعایتول حتمي دی .

د افغانستان اسلامي امارت د بو خپلواک هیواد په توګه د دی حق لري چي دخپلي واکمنی د ساتني په خاطر خاص قوانین اونور تقنیني سندونه برابر او تطبیق کړی . د دغه ژمن لیک په اړوند باید ووایو چي د افغانستان قوانین بوازی د بهرنیو اتباعو لپاره توضیح شویدی . که نه ددغه ژمن لیک زیاتره مادی دافغانستان په پخوانیو قوانینو کی هم موجودی دی او باید یادونه وکړو چي په د یپلوماتیکي او قنسلي برخو کی د ۱۹۶۱ او ۱۹۶۳ کلونو کنوانسیونونه هم وضاحت لري او ددغه شان قوانینو د وضع کولو حق یې د دولتونو لپاره خوندي ساتلي دی .

دغه راز دولتونه د نړیوالو عمومي حقوقو له اصولو سره سم د خپلي کورنی او بهرنۍ پالیسي په برخه کی آزاد دی او د خپل هیواد دکورنی نظم د ساتني په خاطر قوانین او مقررات وضع کولی شي .

د یادونی وړ ده چي ددغه ژمن لیک زیاتره مادی په هغو پروتوکولونو کی چي پخوا د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت او دملګرو ملتو د سازمان د نمایندګیو ترمنځ لاسلیک شویدي موجودي دي . او اوس یې بوازي توضیح شوي ده .

او باید یادونه وکړو چي په دی برخه کی زیاتي اسانتیاوی هم په پام کی نیول شویدي ان دهغو مالونو په برخه کی چي استعمالول یې د کورنیو اتباعو لپاره بیخي منع دی په عام محضر کی استعمالول یې بهرنیو اتباعو ته هم منع شویدي . یعني اسلامي امارت غوښتي دی چي عامه نظم د پخوا په نسبت په ښه توګه وساتي .

## تعمیرود رسه د شت سفید . . .

متذکره تاسیس گردیده و از اثر حوادث طبیعي خساره مند و در این اواخر از استفاده خرج گردیده بود که از اثر توجه مسؤلین وزارت معارف و به همکاری مردم محل بازسازی آن ازبودجه وزارت معارف درمدت یك ماه به پایه اکمال رسیده است .

مدرسه متذکره دارای هشت اتفاق درسی و سایر ملحقات ضروری بوده و هم اکنون صد نفر طالب العلم در آن مصروف فراگیری علوم دینی میباشد .

## سرک قریه جات کوچه . . .

در محفلی که بدین مناسبت ترتیب یافته بود محترم مولوی سید عبدالسلام آغا سر پرست ولایت بادغیس از کار وزحمات بیدریغ مردم قریه های کوچه زرد ولایت بادغیس ابراز امتنان نموده سرك متذکره که در اثر بی توجهی مسوولین گذشته تخریب و از استفاده خارج گردیده بود به اساس توجه مسولین امارتی مجدداً ترمیم ومورد استفاده وسایط ترانسپورتی قرار گرفت .

سرك یادشده بطول سی کیلو متر به همکاری مستقیم مردم ترمیم گردیده است .

## دبندیزونو په موجودیت کي . . .

امریکا تر منځ اړیکوکی به هیڅ راز بدلون را منځته نشي .

سید محمد خاتمي چي ځان دجمهوري ریاست دمقام دنیولو لپاره په دویمه دوره کی کاندید کړیدی وویل: دغه موضوع به تهران پوری اړه لري چي له امریکا سره دخپلو اړیکو دبیا ټینګولو په باب خپل شرایط څرګند کړي .

## جاپان املاً است تا . . .

مردم جاپان براي افغانستان طي مصاحبه با خبر نگار ما اظهار داشته افزود :

موسسه خیریه بین المللي P.M.S که از طرف مردم محلي جاپان تمویل میگردد از طي ۱۶ سال به اینطرف در شهر پشاور پاکستان و از طي دونیم ماه بدینسو در شهر کابل مصروف خدمات صحي براي مردم افغانستان مي باشد .

این موسسه همین حالا طور آزمایشي سه کلینیك مجهز صحي را در مناطق قلعه زمانخان ، دشت برچي و ده عربان قرغه شهر کابل ایجاد نموده کـه روزانه طور اوسط بین ۱۲۰ - ۱۵۰ مریض در هر کلینیك طور مجاني معاینه و تداوي شده و ادویه لازم و باکیفیت در اختیار این مریضان قرارداده میشود .

ناظم موسسه P.M.S در کابل اضافه نمود : ما خدمات خویش را مطابق کلیه فرامین و قوانین نافذه امارت اسلامي افغانستان عیار ساخته و تا حال هیچ مزاحمتي از جانب مسؤلین امارتي متوجه کار ما نبوده است .

موصوف علاوه داشت :

ما خودرا در تطبیق این برنامه خیلي موفق مي بینم؛

اگر نیاز مردم درین زمینه نسبت به خدمات ما بیشتر محسوس شود موسسه ما قادر است تا در آینده نزدیك این پروژه را وسعت داده ویك شفاخانه بزرگ و مجهز را به هزینه مردم جاپان در کابل ایجاد نماید.

مهربان

## په نیپال کي ګرځ . . .

په دې سره ووژل شول د نیپال د کورنیو چارو وزارت په کیمنډو کی په تګ راتګ باندی بندیز لګولی دی د نیپال د کورنیو چارو وزارت پرون اعلام وکړ په کیمنډو کی په تګ راتګ باندی د بندیز هدف دادی چي د مظاهره کوونکو او امنیتي قواوو ترمنځ د نښتو مخنیوی وشي بیندراچي دخپل ورور ګیندرا پرځای د نیپال د نوی پاچا په توګه ټاکل شویدی ویلی یې دی چي یو کمیسیون بې ټاکلی دی چي د سلطنتي کورنی په عامه وژنه باندی څیړنه وکړي .

## اعضاي اوپک بر تصمیم . . .

دادند . وزرای انرژی کشورهای متذکره طی این جلسه خود این تصمیم عراق را مورد بحث قرار دادند که صادرات نفت خود را به بازار های جهانی به حال تعلیق دراورده است .

عراق اخیراً در اعتراض به تمدید تعزیرات اقتصادی شورای امنیت علیه آن کشور تمام صادرات نفتي خود را به خارج قطع نمود که این امر واضحاً تاثیرات سوء خودرا در قیمت نفت در بازار های جهانی خواهد گذاشت

# دلچسپ وخواندني

**در ایالات متحده امریکا:**

## همه ساله حدود ۵۰ هزار تن به سرطا ن پوست مبتلا میشوند

سازمان صحی جهان (W.H.O) می گوید که سالانه د ر جهان دو صد هزار واقعه جدی سرطان پوست انکشاف می نماید .

داکتران از سال ها به این طرف هوشدار داده اند که معروض شدن به شعاع آفتاب می تواند باعث مشکلات محیطی صحی از جمله سرطان پوست شود تنها در ایالات متحده امریکا سالانه پنجاه هزار نفر مبتلا به سرطان خبیث پوست می شوند . حدود هشت هزار نفر امسال در اثر این مرض در امریکا تلف خواهند شد .

داکتران سرطان پوست را که د ر بدن انتشار یافته باشد توسط تداوی کیمیاوی علاج می کنند ، توصیه داکتران این است که مردم باید همیشه بدن خودرا از شعاع آفتاب حفاظت کنند . «امین»

## خوشی و سرور موجب کاهش امراض قلبی میگردد

یک متخصص یا جراح قلبی در آسیا میگوید : خوشی و نشاط همیشگی در انسان ها نه تنها باعث کاهش عوارض بدنی میگردد بلکه می تواند بر کاهش امراض قلبی نیز اثر مثبت و نافعی داشته باشد .

وی اعلام کرد : یکی از عوامل بروز امراض قلبی در انسان ها شرایط اجتماعی عوامل محیطی و اقتصادی میباشد . وی گفت : فعالیت های نشاط آورد وشادی آفرین روزانه موجب تسکین ناحیه های در مغز انسان می شود که وضعیت زندگی را برای انسان بهتر می سازد و هم عمر را افزایش میدهد .

این متخصص با تاکید بر اثرات شادی و خوشحالی بر روح جامعه گفت : در جامعه بیکه فعالیت های نشاط آورد و شادی آفرین از سوی اجزای جامعه شکل می گیرد با کاهش شدید بیماری های قلبی و هم چنین بیماری های دیگر مواجه می شود . این داکتر کاهش پریشانی را در افراد جامعه امروزی یک ضرورت اساسی خواند و تاکید ورزید فشار های مختلف اقتصادی و اجتماعی ، ترشح ماده ای را در افراد تسریع می کند که این امر موجب بروز تشنج وواکنش های منفی درشخص میگردد . شاگرد

## قلب مصنوعي به بازار آمد

یك متخص جراحي قلب درانگلستان میگوید قلب کوچك مصنوعي یي را که او ساخته است وهشت سال است در شرایطي مانند بدن انسان کار میکند تا پایان سال میلادي در سینه انسان به کار گرفته خواهد شد .

وي در باره نحوه قلب مصنوعي مي افزاید این قلب کوچك ارزان و سبك است وتمام فعل وانفعالات آن توسط ماهواره و خطوط انتر نت واز راه دور قابل کنترول است .

به گفته وي این قلب تا کنون در آزمایشگاه ها در انسان و هم سایر حیوانات آزمایش شده و نتیجه مثبت داده است .

## برنامه چهارساله . . .

افتادن وریانت های طبیعی جهان میشود کمك خواهد کرد .

خبر نگار آن میگوید : بسیاری از ایکولوژست ها یا کارشناسان محیط زیست معتقد اند که بسیاری از سیاست مداران وصاحبان صنایع و بازرگانان رسانده گی تصمیمات در مورد توسعه و بهره برداری از زمین میگیرند بدون آنکه از پیامد های آن آگاه باشند .

## یهودي غاصب رژیم . . .

فلسطین او د اسرائیلو د صهیونیستي رژیم ترمنځ د اوربند د نافذولو لپاره نړیوالی هلی ځلی دوام لري .

په اوس وخت کی د روسیي ځانګړی استازی او د المان د بهرنیو چارو وزیر په منځني ختیځ کی دی اونیت لري چي د فلسطین او د اسرائیلو د صهیونیستي رژیم له لوړ رتبه مامورینو سره لیدکاته او خبری اتری او د اوربند دموضوع په باب ورسره د خبری .

SHARIAT DAILY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:
Alhaj Mulla Assadullah ,Hanifee,
Editor: Ghulam M. Farooq